

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| 1. | سریزه | 2 |
| 2. | قره باغ جغرافیایي موقیعت | 4 |
| 3. | قره باغ اهمیت | 5 |
| 4. | قره باغ ولسوالۍ تاریخي اهمیت | 5 |
| 5. | قره باغ حاصلات | 8 |
| 6. | قره باغ مهم بندونه او نهرونه | 9 |
| 7. | قره باغ موجوده بازار حالات | 10 |
| 8. | قره باغ غرونه | 11 |
| 9. | قره باغ اوسیدونکي | 13 |
| 10. | قره باغ شخصیتونه | 17 |
| 11. | قره باغ معادني زیرمې ذخیرې | 19 |
| 12. | قبیلوي وېش مطابق قره باغ کلي او درې | 20 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

لوړو غرونو په منځ کې یوه سرسبزه او هواره سیمه چې هر لوري ته یې زرغونې منظرې تر سترګو کېږي ، چنارونو او د باغونو پاکه هوا یې د زړه داغونه جوړه وي نو د دې ښکلې هوا دارې منطقې نوم قره باغ دی. د دې پراخې سیمې اوبه او هوا ډېره د ژوند کولو لپاره مساعده ده، مختلیف ځنګلونه، باغونه ، ښکلې د ښتې او مختلیف ډوله میوې لري .د دې سیمې وګړي اسلام پاله ، میلمه پاله ، د ښکلي لباس په تن کوونکي او دښکلو ځهرو لرروونکي دي .همدا با ارزښته سیمه د لرغوني غزني چې تاریخي مخینه یې محمود غزنوي او د اولیاوو کرامو شهر په نامه هم یادیږي، او د افغانستان په زړه کې پروتو ولایاتو څخه دی نو د دې ولایت په زړه کې پرته او سر سبزه سیمه ده چې همیشه دې خدای تعالی اباده او سر سبزه لري.

پورتنۍ سریزه د لیکوال په قلم لیکل شوي او د دې کتاب اولنی نوم په فارسي ژبه (ائینه قره باغ ) باندې مشهور ؤ، کله مې چې پښتو ته وژباړه نوم مې د ( ګل په قره باغ) نوم ورته غوره کړ ځکه له دې جملې سره هم خلک اشنایي لري .

لیکوال د دې ښکلې او پاکې هوا لرروونکې سیمې په اړه ډېر ښکلي معلوماتو راټول کړي دي او په دې اړه ډېره هڅه کړې په اوسني عصر کې چې کتابونه لیکل شوي دي نو د دې سیمې په اړه داسې مکملو معلوماتو سره نه، یم مخ شوی . د دې سیمې ډیری اوسیدونکي به پوره معلومات او د دې سیمې له ارزښت څخه کېدای شي ناخبره وي . په ډیری کتابونو کې مې داسې پوره معلومات نه کړل ترلاسه چې زما په ګډون د قره باغ زیات اوسیدونکو اړتیا پوره کړي. زما په ګډون د ډیرو غوښتنه وه چې د قره باغ په اړه معلومات ولري یوه ورځ په ټولنیزې رسنۍ (فېسبوک) کې د اسدالله بهوال له پوستې سره مخ شوم هغه هم د قره باغ د نوم په اړه ئې معلوماتو غوښتنه کړې وه. همدا کتاب چې کله ماتر لاسه کړ. نو مې د ژباړې فکر له لومړۍ ورځې څخه پیل کړی دی اوس غواړم چې تاسو هم د دې ارزښتمنې سیمې له معلوماتو خبر کړم .کیداشي چې زما ژباړه زیاتې نیمګړتیاوې ولري، خو بیا هم له لوستونکو هیله کوم په دې لاره کې زما سره همکاري وکړي ؛ ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما لومړۍ ژباړه ده . دا کتاب به صرف په پي ډي ایف ډول ستاسو دمطالعې وړ وګرځي په چاپي بڼه یې باید له نوي معلومات سمبال کتاب چاپ شي اوس یې د چاپ لپاره داسي پوره او له نوي معلوماتو په کتار کې کتاب نه شمیرم بلکې د راتلونکي پوره کتاب لیکلو ته لاره هواره وي؛ یوازي په چاپي بڼه چې ما پښتو ته ژباړلی همدغه کتاب دی چې د (ائینه قره باغ) په نوم دی، د لیکوال کتاب چې کلونه پخوا چاپ شوی دی شپږ. پنځوس مخونه لري په کوچني سایز کې چاپ شوی کتاب دی لومړي مخ کې د لیکوال تصویر او دوه بیتونه لیکل شوي دي او په وروستي مخونو کې د څارنوال محمد انور ناشر تقریظ پرې لیکلی دی او ورپسي څلور نیم بیتي پښتو شعر او دوه نیم بیتي فارسي شعر باندي کتاب پای ته رسیږي چې په همدې صفحې کې ټولو شعرونو راوړل ښه ګڼم.

اې قـره بـاغـــه د زیړو ګلـو باغـه

نوم دې شیرین لکـــه کـیـماغـه

د ګلـــو باغـــه روشـــن چـــراغـه

بوی د شرف ښه لګیږي په دماغه

لومړنۍ صفحې بیتونه :

انــچه ګـویم کـم بود از اوصـاف ان دیار باوقـار قره باغ

باغ بود باغ است باغ باشد تا ابداین دیار افتخار قره باغ

کتاب وروستۍ صفحې بیتونه :

باغ و بوستان جنت مثال قره باغ

ګل و ګلشن ګل و ګلـزار قره باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قره باغ جغرافیایي موقیعت

غزني لرغونی ولایت چې د افغانستان په مرکزي نقطه کې کرار لري، همداسي قره باغ ولسوالئ هم د غزني له مرکزي نقطې څخه چې د کتاب د لیکوال په وینا او کیدای شي د نقشې له کراره یي دیرش کیلو میتره فاصله ښودلې ده، حال دا چې اوسني وخت کې ډیری خلکو په وینا د قره باغ له بازار څخه پینځه پینځوس کیلو مټره په فاصله د جنوب لوري ته پرته ولسوالئ ده. لیکوال په خبره غزني ولایت دهماغه عصر په تقسیماتو له مخې په شپاړس لویو او وړو مرکزونو ویشل شوی ؤ، له د غو لویو او واړه مرکزو څخه ئې لس مرکزونه ولسوالئ وې او پینځه واړه مرکزونه یا علاقه داري په نوم وې چې له دې جملې څخه یوه یې مرکزي مقام یا ولایت وو. ولسوالئ عبارت وې لومړی د قره باغ ولسوالئ دوهم اندړو ولسوالئ درېیم خوجه عمري ولسوالئ څلورم مالستان ولسوالئ پینځم جغتو ولسوالئ شپږم ناهور ولسوالئ اووم اجرستان ولسوالئ اتم جاغوري ولسوالئ نهم مقر ولسوالئ لسمه ناوې ولسوالئ.

واړه مرکزونه یا علاقه داري چې په هغه وخت کې ورته علاقه داري ویله او اوس ولسوالئ دي عبارت دي له ګیرو ، ده یک ، زنخان ، ګیلان ، اب بند او د غزني مرکزي مقام.

په اوسني ویښ کې د غزني ولسوالئ ۱۹ ته رسیږي چې ټولې ولسوالي یي عبارت دي: غزني ولایت مرکز (غزنی) ، ده یک ، زنه خان ، خواجه عمري ، رشیدان ، ولي محمد شهید ،جغتو ، واغظ ، قره باغ ، ګیرو ، اندړ ،ناور ، اجرستان ،مالستان ،جاغوري ، مقر، اب بند ،ګیلان او له ناوې ولسوالیو څخه عبارت دي.

قره باغ ولسوالئ یو خاص موقیعت لري چې شرق ته یي د اندړو او واغظ ولسوالئ چې د غزني مربوط دي موقیعت لري، د شمال شرق طرف ته یې جغتو او ناور ولسوالئ موقیعت لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسي د شمال غرب طرف ته جاغوري او مقر ولسوالۍ کرار لري جنوب ته يې اب بند ،مقر او ګيرو ولسوالۍ موقيعت لري . قره باغ ولسوالۍ په يوه مرکزي نقطه کې موقيعت لري چې نور ولسوالۍ ور سره د دائيرې په شکل څلور لورو ته موقيعت لري .

## قره باغ اهميت

ارزښتمنه سيمه ده چې هر اړخ يې د صفتونو او اهميت وړده د دې سيمې اوسيدونکي ميلمه دوسته، غيرتي او مېړني پاتي شوي دي انقلاب د وخت ټولې ناخوالي يې قبولي کړې خو بيايي هم د خپلي سيمې په اباد ولو او سمسوره ولو کې بې شميره هڅي کړې دي . د دې سيمې وګړي يو بل ته درناوی لري له هري منطقې چې څوک ورته راشي په درنه سترګه ورته ګورې د انقلاب په وختونو کې د ټولو ګاونډيانو ئې ښه ميلمه پالنه وکړه او له ټولو سيمو به يې ښه په امن او درناوي کې رخصته ولو د جنګونو او تور تمو کې خپلې مبارزې جاري ساتلي دي او د وخت ظالمانو ته نه دي تسليم شوي. د قره باغ سيمه د لويې لارې له امله نا امنه وه د وخت ټولې نا خوالي په دې لاره او ټولې منطقې رنځ ګاله چې اوس مهال يې بيانول ښه نه بولم ځکه دا ناخوالي تر نن ورځې پوري په تکراري ډول تکراريږي.

## قره باغ ولسوالۍ تاريخي اهميت

د قره باغ نوم يو اهميت لرونکی او د مخکينيو وختونو څخه را پاتي شوی نوم دی چې ډير شهرت لري له نوم څخه يې څرګنديږي چې دپخوانۍ يا لرغونو زمانو څخه دغه سيمه کې ښاۍ سته باغونه يا باغيات مو جود ؤ او زرغونوالی ښــکلا يې زياته در لوده چې له همدې وجې يې د قره باغ نوم ځان ته غوره کړی دی . دا نوم له دوو برخو څخه جوړ شوی دی او له دوو ژبو څخه اخيستل شوی چې يوه يې اردو او بله يې ترکي ژبه ده چې په اردو ژبه کې کلا باغ يا تور باغ ته ويل کيږي او په ترکي ژبه کې سيا يا تور يا شين باغ په نامه هم ياديږي همداسي په پښتو ژبه کې کره د يوه شي صحي يا ا صلي شي ته وايي چې کيدای شي ا صلي معنی يې صحيح باغ ، تور باغ او يا شين باغ/زرغون باغ وي په هر حال هر يو ور ته دلا لت کوي .قره باغ د نوم په اړه اروښــاد علا مه عبدالشــکور رشــاد هم يوه مقاله ليکلې وه ما ډيره هڅه وکړه چې پيدا يې کړم خو ومي نه موندله

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هم د شین باغ په اړه ویلي و. د م ساعدي هوا او اوبو لرلو له امله د ټولو د پام وړ سیمه ده، چې مخکیني عصـــر کې یې د لوړ رتبه امیرانو او د هغه وخت د قدرت د خاوندانو توجو یې زیات جلب کړې وه، په دې سیمه کې او د دې منطقې مرکزي ساحو کې اوږده کندل شوو کاریزونو او د ښایسته او خوړو اوبو لرلو له امله یې سیمه اباده ښکاري او د هر وخت او زمان د وګړو نظر یې ځان ته جلب کړی دی . همدا کاریزونو اباده ول د دې سیمې د وګړو کار نه دی بلل شوی بلکې دا د یو بل ځانګړي حکومت او د لوی قدرت کار بلل شوی دی ، بل دا چې دغه کاریزونه د خلکو په وینا د سلیماني کاریزو په نامه هم مشهور دي او ویل کېږي چې د سلیمان پیغمبر په زمانه کې کیندل شوي یا جوړ شوي دي او ځیني بیا دا د سکندر د وخت اعمار شوي ګڼي .

په هر حال که د هر قدرت په وخت کې جوړ شــوي دي صــحیح او په ښــه ډول کیندل شــوي دي، ځیني کاریزونه ژر تخریب شــوي دي، ځیني د انســانانو په واســطه د کاڼو او نور ځیزونو په ذریعه خراب شوي دي د دغو تخریب شوو کاریزونو اباداول د او سني ع صر د خلکو له توان څخه وتلې خبره ده ځیني کاریزونو د لویو قدرتونو او زور واکو له لوري د خلکو د نافرمانۍ له کبله زیانمن کړي دي لکه د چنګیز ظالیم په یرغل کې چې زیانمن شوي بیا نه دي رغول شوي.

ځیني کاریزونه د خلکو په مرسته پاک شوي او تر نن ورځې ورڅخه استفاده کېږي.د همدې لویو او وړو کاریزونو له وجې او د ښو اوبو او پاکې هوا په درلودلو سره یې د مخکیني ع صر د پاچاها نو او لوړ رتبه خلکو پام ځان ته اړولای دی او د هغه وخت مشـــرانو هم خپله توجو همدې ســـیمې ته کړې ده، ویل کېږي چې د غزني ښار یو سر د قره باغ تر اخیري منطقو پوري غزیدلی ؤ چې اوس مهال هم یوه پخوانۍ کلا چې د عسکر کوټ په نوم اوس هم یادیږي او موجوده ده، زیات تاریخي اثار پکې پیژندل شوي لکه سوځول شوي او سپني او نور دهغه وخت اثار همدلته موجود ؤ همدا سیمه د( ګوائین ) په نوم هم یادیدله همدلته به د سلطان محمود غزنوي د سلطنت په وختونو کې د او سپني او تخنیکي و سائیلو فابریکه موجوده وه چې د ا سانو نعلونه او نعلبندي او نور جنګي اسباب جوړول نو له همدې وجې قره باغ سیمې همدوی ته د پارک مثال درلود ځکه همدا سیمه یو اباده او په باغونو پوښلي وه، په همدې سیمه کې یوه ښکلې او اباده د ښته چې لس کلیومتره په اوږد والي او لس کلیومتره په سور سره موجوده ده چې د هغه وخت او هم په او سني وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې زيات شـهرت او ارزښـت لري د (باغ اعطار) په نوم ياديږي، همدې دښـتې کې به د سـلطان محمودي غزنوي او د ده لښکريانو به يې د پسرلي شپې او ورځې همدلته د تفرح لپاره تيره ولې، همدا اوړده او له خوشبويانو ډکه دښته به د ګلکو او د زردالو د رود په اوبو به خړوبيدلې چې همدې سـيمه کې په منظم ډول باغونه ايښـودل شـوي ؤ او دا دهغه عصـر پارک په نوم ياديله. همدې دښـتې ته نيږدې يو پوخ اوږدو کيندل شـوي کاريز چې ډيري خوړي اوبه يې درلودي، او د هغه وخت په نوم چې شب بهار يې يا د پسرلي شپو په نوم شهرت درلود د همدې نومول شوي کاريز په څمکه کې يوه لويه او د مقاومت لرونکي کلا موجوده وه په همدې کلا کې به سلطان محمود او د هغه وخت لښکريانو به يې د پسرلي شپې او ورځې همدلته په تفريحي او منظريي ډول سبا کولي چې اوس هم هغه سيمه د شهار په نوم ياديږي.

کومه کلا چې هلته موجوده وه او سني وخت کې ويجاړه شوې ،پارکونه او باغونه يې د غزنويانو له دورې څخه وروسـته چې کله غزني د غوريانو او علاوالدين جان سـوز لاس ته ولويده ټوله اثار يې و سوځول . باغونه او پارکونه يې له منځه يووړل او ځيني يې تخريب کړل، د ځينو ئې يوازې نومونه په مراث را پاتي دي.

غزنويانو يا شـايد د هغه څخه د لرغوني دورې به وي يوه غزل په مراث را پاتي ده دا غزل چې د قره باغ زرغونوالی او ښکلا په کې منعکس شوي له پخواني ءصر څخه يوه راپاتي غزل ده چې د هغه عصر په وادونو او خوشحالي په محفلونو کې ويل کيده خوله په خوله تر موږ پوري را رسيدلې او هم په او سنۍ زمانو کې له راډيو ګانو هم اوريدل شوي که څه هم لرغونو زمانو کې ويل شوي ده،مثال او نمونه يې په دي ډول په کتاب کې ليکل شوي ده.

ګل په قـــــــــــــــره بـــــاغ ده

د قره باغ د خلکو څـــــــه عجب دماغ ده

ګل په قـــــــــــــــــره باغ ده

ده قره باغ په وطن څه ښکلی شمال ده

ګل په قـــــــــــــــــره باغ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم قره باغ اوس هم په زرغونوالی، ښکلا او صفت وړ دی خو بیا هم همدا غزل چې پخوانی اهنګې او خوند لري له ډیره پخواني عصر څخه راپاتې دی.

قره باغ معنوي هستي چې د وخت د پاچاهانو او د حکومت توجو ورته جلب شوي او خپل همت یي د غیرت په میدان کې ثابت کړی دی د وخت او عظمت لروونکي پاچا امیر شرعلي خان چې د افغانستان مخکیني پادشاه تیر شوی دی د قره باغ منطقې ته یي خاصه توجو کړې وه نومړي د باغ اعطار دښتي په یوه حصه کې چې یو لوی نهر د اوبو له نختې څخه راغلی او همدا ځمکې پرې سمسوري وې یوه کلا په نوم د شراباد اباده کړه نومورې ځمکې بیا وروسته غازي امان الله خان مراتې او وزیرو غرتي قومو ته چې د افغانستان د استقلال او ازادي اخیستلو کې زیاته ونډه اخیستې وه،خپل شهامت یې په ثبوت ثابت کړی وو د مقفاتو په ډول ورکړل شوه چې اوس هم همدا قومونه پر همدې ځمکو کې اوسیږي.

## قره باغ حاصلات

قره باغ سیمه په زیاته اندازه زراعتي ځمکې لري د پریمانه اوبو په لرلو سره د دې سیمې خلک په کښت کولو بوخت دي دوی له کښت او کار سره ځانګړی شوق لري او همدا د ځمکو ابادولو څخه ډول ډول حاصلات ترلاسه کوي. په همدې ډول ډیری حاصلات یې خارجي هیوادو ته هم صادرات کیږي.

مختلف ډوله باغونه لري او هر ډول میوې په کې کیږي او هم یې میوې نور ځایونو ته صادرات کیږي او په بدل کې کافي اندازه پیسې ترلاسته کوي.

د باغونو له پاللو سره سره د مختلفو حیواناتو په پالنه هم بوخت دي همداسي د اسانو روزنه سوارلي او هم د (نیزې لوبي) په کې رواج لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا سیمه یوه د ژوند د اسنتیاوو لپاره ترټولو غني او هر ډول د ژوند د ضروت وړ شیزونو لرونکي ده . د ضرورت وړ او مختلفو ډوله څنګلونه لري د سوځولو او د استفادي لپاره ډول ډول لرګیو ونې پکې کېږي او د عوایدو په ترلاسه کولو کې مهم رول لري.

## قره باغ مهم بندونه او نهرونه

قره باغ په روښنايي کې د هیواد روښانايي نغښتې ده، او هم همدا سیمه دا استعداد لري او په اساني سره دا کار شونی دی ځکه قره باغ د ولایت په سطحه دوه لوی او مهم بندونه لري چې په کم مصرف او اساني سره جوړیږي او د زیات برق ورکولو توان لري او هم د سیمي په روښانه کولو کې مهم رول لري .

داوبو په درلودلو سره قره باغ دوه مهم بندونو جوړیدا ته ضرورت لري ځکه دوه مشهور بندونه چې د زر سنګه او زر دالو په سیمه کې موقعت لري.

١- زر سنګه بند: چې د قره باغ بازار شمال لوري ته په لس کیلو مټري کې د رز سنګه په سیمه کې موقعت لري او د دوو لویو غرونو په منځ کې په اټکلي ډول یې ارتفا دوه سوه متره شاوخوا ښودلې ده، د قره باغ له وسطي سیمې څخه یې اوبه تیریږي چې د بازار ختیځ لوري ته یې یو پل هم پرې جوړشوی دی چې د (قره چې) پل په نامه مشهور دی.نوموړی د اوبو بند له اوبو څخه غني بند یادیږي چې د ژمي او پسرلي په موسمونو کې د زیاتو اوبو په لرلو سره ځیني خلک له مشکلاتو سره لاس وي، همدې بند سرچینې چې د ( فلک سیا کو) په نوم غره او بله سرچینه یې ګلکو یا ناور چې په قره باغ کې د ګلکو غره په نامه یادیږي او هم زیات شهرت لري سرچینې اخلي، همدغه غر چې تل په واور پوښلی او د بارانو او سیلابونه د زخیرې کولو ځای هم لري ویل کېږي چې د کال په څلور واړه فصلونو کې له دي ځایه رواني اوبه ترې بهیږي. نوموړي بند ته د ضرورت وړ هرڅه په سیمه کې شته د اوبو د مخنوي لپاره ځانګړي غرونه او د جوړولو لپاره یې په سیمه کې ځانګړي ډبري چې د ( سنګه سنکچله ) ورته وایي او په سیمه کې ریګه په ټاکلي اندازه شتون لري. د برق ورکولو ښه چانس ورسره شته او هم د سیمې په زرګونه جریب ځمکې د خړوبولو قدرت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سلونه کاریزونو چې په همدې سیمه کې موجود دي له اوبو څخه يې برخمن کېږي. هغه شاړې ځمکې او لوی لوي میداني ځمکې چې تراوسه شاړي پاتې دي د زراعت او کښت وړ به وګرځي. که چېرته د زر سنګه بند جوړ شي او د اوبو موجونه يې پکې په ځپوشي او همدا د بند اوبه د غرو او ښکلو تپو ته د ماشین الاتو په واسطه پورته شي او پر دغو اوبو او د غروپه لمنو او سرونو کې په منظم ډول پارکونه، هوايي میدانونه ،سړکونه ، باغونه او زراعتي ځمکې پرې ابادي شي نو دا به بې مثاله او بې سیاله د دنیا منظره وګرځي چې ساری به يې نه لیدل کېږي.

۲ـ زر دالو بند : همدا بند یوه هم په وسطي او زرغونه سیمه کې چې زردالو نومېږي جریان لري همدا بند د ژمي او پسرلي په موسمونو کې اوبه څخه برخه من دی او تل جریان لري په همدې سیمه کې هم په لوړو ارتفاعاتو کې هم غرونه موقیعت لري. څلور فصله ترې رواني اوبه بهیږي او تل د ډیرو سیلابونو د راتلو څخه برخمن دی او د اوبو د زخیره کولو لپاره په ډیره لویه اندازه کاسه لري له دې بند څخه په ډیره پیمانه استفاده کیدلی شي ځکه : دلته یوه لویه دښته چې د لړم/لړمي په نوم شتون لري د اب بند ولسوالۍ او مقر ولسوالۍ په اوږد سره پرته ده او همدا شان د باغ اعطار لویه دښته پرته ده، خړوبولای شي او زراعتي مفاد ترې تر لاسه کیدلای شي په همدې ډول د قره باغ ، مقر او اب بند ولسوالۍ ګل او ګلزار کولای شي.

## قره باغ مو جوده بازار حالات

دلته صرف د لیکوال د وخت بازار حالات را اخیستل شوي دي که څه هم اوسني وخت کې د بازار پراخوالی زیات دی دکانو شمیر په زرګونو دی مساحت يې لوی شوی؛ دلته د لیکوال د وخت معلومات تاسو ته ژباړم؛ ځکه ټوله د لیکوال په قلم لیکل شوي معلومات دي ما صرف ژباړلي دي. هغه وخت د بازار مساحت او پراخي دوه دیرش په دوه دیرش کیلومټره کې ښودل شوی چې تخمیني مساحت يې (۱۲۵۰)کیلومټره مربع چې دوه دیرش کیلومټره عمومي سړک د کابل کندهار له شرق څخه د غرب ته وسل شوی تیر شوی دی.

قره باغ بازار د مرکزیت له وجي د منطقې په سطحه د توجو او اهمیت وړ دی او هم يې د هزاره او پښتون او غیره خلکو سره هر څه مساوي دي د هغه عصر کې د دوکانونو شمیر زرو شاوخوا ول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خام ډول جوړ شوي وو، د بازار په منځ کې ښکلي او ذایقه داري اوبو جریان درلود، بازار دوکانداران بااخلاقه، با ادبه، باانصافه او ښه خوی په درلودلو سره د خلکو کاروبار په صحیح ډول په مخ روان وو په داخل د بازار کې یو مسجد چې د درې سوه نفرو ځای یې درلو موجود وه او هم یو تعمیر چې د پخو خښتو څخه جوړ شوی په ولسوالۍ کې موجود وو هم د پخو خښتو په وسیله بل تعمیر کډام ؤ، یو پوخ کانکریټي یو منزله تعمیر د شفاخانې لپاره موجودی ؤ.

بازار که څه هم یو اجتماعي مرکز دی بل د ټولو د ژوند د ضرورت وړ توکې یې پوره کړي دي او د زیات اهمیت وړ دی د دې د ساتنه او پالنه د منطقې د هر سړي وظیفه ده، د لیکوال په خبره د بازار وصله ول د موشکي سره چې په اوسني وخت کې وصل شوی الحمدلله د خلکو ډیر ضرورتونه پرې پوره کیږي او بل د شرق لوري ته سای له بازار سره او همداسي له عمومي لویه لارې یا عسکر کوټ سره د قره باغ بازار وصل کول په اصلي او اساسي ډول د لارې جوړه ول په حقیقت کې د قره باغ بازار ژوندي ساتل دي.

# قره باغ غرونه

که هر څومره قره باغ د منطقې په اړه بحث او خبري وشي بیا هم لیږ.دي او خلاصون یا پای به ونه لري ځکه چې د دې سیمې منځنۍ سطحه د یو میدان ته ورته شکل لري او هر لوري ته ټاکلی اوږد والی لري، څلورو اړخونو ته لوړ لوړ غرونه لري داسي غرونه چې د سړي سترګې او پام ور اوړي ځینو ځینو په سرنو سپیني واورې ښکلې منظرې جوړې کړې دي تېپې یې لا ډیره ښکلا لري منځنی میدان یې د چنارونو ونو او د باغونو په شین رنګ سره پوښلی دی د غرونو لوړي څوکې یې د اسمان له فلک سره سر وحي او چې هر لور ته ګورې نو فکر کوې چې د کلا په شان د غرونو دیوالونه چار چاپیره راتاو شوي.

غرونو له مجموعي څخه یې ځیني مشهور او د سیمې په ښکلا کې ځانګړتیاوي لري او هم یې له نیږ.دي ولسوالیو سره پراته دي یا پیوسته شوي دي را ځو د قره باغ مشهور غرونو ته:

کارګان غرونه: چې له جنوب څخه شمال لوري ته چې د خاکي باد او یا هم د کوی باد په نامه مشهور دي چې د قره باغ منطقه له اندړو او واغظ سره نښله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سربلند غرونه : دا غرونه شنې درې لري چې قره باغ او جغتو سره نښلوي او د قلياقل نه وروسته د کلکو د غرنو د پيل سره خپل سرکښته کوي او پای ته رسيږي.**

**ناهور يا ناور غرونه : چې په (کلکو او سيا کو) هم شهرت لري چې ډير لوړ او تل په واوره باندي سپين وي او تل يې سپينه پکړۍ په سر وي د يوه لوړ ديوال په څير قره باغ او ناور ولسوالۍ سره بيله وي چې له شرق څخه د غرب لوري ته پراته دي، غرب لور ته يي د د کلکو يا(کوی بلند )دی چې د منار په شکل په يوازې تنه د تيارسي او سلامي په ډول ولاړ دی جنوب لوري ته کواره غر يا سر غر په نامه چې د (کواره ) په ډول ولاړ دی چې په همدې نوم يې شهرت موندلی دی.**

**سور غر(سرخ کو) : چې د هزاره او پښتنو سيمې سره بيله وي همدا غر داسي شکل لري لکه تکيه چې وهلي وي .**

**(مدکو) غرونه : چې د قره باغ منطقه له مقر او اب بند څخه بيله وي له غرب څخه د شرق لوري ته او له شمال څخه جنوب لوري ته او بيا هم له غربه د شرق لوري ته او بياهم له شماله جنوب ته د کفچه مار په شکل په يو بل کې سره تاو شوي د ډېرو رنګارنګه معادنونه او نوره ښکلا لري.**

**(کو سر)غر: چې د شير په غره سره مشهور ده او ښکلې او شنې ونو په درلودلو سره په خپله لمن کې د اوبو يو ښکلی نهر لري چې (جوی شير) هم ورته وايي چې دا غر د قره باغ او اب بند په منطقه کې موقعت لري او پورته د غره په څنډه کې يو زيارت کرار لري چې د کوم بنده لپاره الله ج ابدي کور کرځولی دی .**

**اوس راځو وړو تپو ته همداسي ښکلې او رنګينې تپې موجودي دي چې هره يوه ځانته او بيل بيل ارزښت لري همدا تپې چې په يوه بله کې سره اوبدل شوي دي همدا تپو شروع د خالي رڼا خيلو له حصو څخه شوي ده تر بنې مونده يعنې د شرق له خوا څخه د غرب لوري ته او د بنې مونده څخه يې بيا کرځيدلي دي يا تاوشوي دي د قبرغي لوري ته يې سلسله پيدا کړې ده او د غرب لوري ته کرځيدلي دي تر جنګلک کلي او هم همداسي پورته لوري ته سلسله لري تر رخنې يعنې د ځنګلک تر پايه وروسته د زر سنګه د بند لوري ته يي تسلسل موندلی دی په زر سنګه کې پيوند په تپو کې پرې شوي يا پای ته رسيدلي دي . وروسته د کاتو کوټ څخه سلسله شروع شوي د دغو تپو او هم د خربلاق ليسک او د قبرغي سره تيري شوي ان تر اهينو پوري .هغه سلسله چې په**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګلک یې پای موندلی و له هغه نه وروسته د شرق څخه غرب لوري ته ادامه پیدا کوي د کلکو تر سر سبزي ساحي پوري. وروسته همدا تپې ادامه پیدا کوي تر نختې ، اصغیر او تر قلوچ پوري .

کلکو له درې څخه وروسته مسلسلې تپې د شمال څخه جنوب لوري ته خپله سلسله روانه ساتي تر زردالو پوري د زردالو له سر سبزي درې څخه وروسته د غرب لوري ته تسلسل لري او همداسي د زردالو د سیند سره او د عمومي لاره چې جاغوري، مالستان، اجرستان او رزګان لاره ده د زردالو له لوی کوتل څخه بیا د سره غره سره خپلي سلسلې لري او د شیر لوړ غره پوري تپې رسیږي او دلته پای مومي چې دلته یوه ډکه چینه اوبه خلکو ته تحفه کوي.

## قره باغ اوسیدونکي

قره باغ اوسیدونکي نرم مزاجه او خوږمن ښودل شوي چې عبارت دي له پښتنو، هزاره ګانو او فارسیوانو څخه پښتانه یې اهلي سنت او حنفي مزحبه دي، هزاره او اکثریته فارسي ژبې اهلي تشیع جعفري مزحبه شیعه دي، د قره باغ پښتنو نفوس تر پینځه شپیته سلنه څخه زیات دی، چې د مخکینۍ سروې له مخې پینځه شپیته اټکل شوی دی او د هزاره او فارسي ژبو نفس پنځه دیرش ټاکل شوی دی.

قره باغ پښتانه په دوو ټبرونو ویشل شوي چې له غلجي او دوراني څخه عبارت دي، تقریباََ پنځه اویا سلنه یې غلجي ټبر پوري اړه لري او پنځه ویشت سلنه یې په دوراني ټبر اړوند ښودل شوي دي.

غلجي قبیلې عبارت دي له :

- اندړ
- تره کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خروټي
- د فتاڼي
- میاخل
- لودین
- ملاخیل
- لیلي زئي
- ناصر
- مریاني

دوراني ښاخ قبیلې عبارت دي له :

- پوپل زي
- اسحاق زي
- مهمند
- بټه ني
- افره دي
- ترین
- وزیر
- مراڼي
- مسعود
- وردګ

کیداشي ډیري نوري قبیلې چي اوسیدونکي یې په کم تعداد وي له لیکلو څخه پاتي شوي وي.

د قره باغ د غلجي قبیلې ښتانه عبارت دي له:

اول ـ اندړو قبیله : اندړو قبیله چې د قره باغ اکثریت پښتنو څخه دي په دوو ښاخونو ویشل کېږي چې په جلال زي او مرجانخیلو باندي یادیږي، چې جلال زي د قره باغ شرق لوري ته اوسیږي یعني په ( موچي ، موشکي ، همبلاق ، باران کلا او رناخیلو ) په کلیو کې ژوند کوي چې بیا همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلال زي قبيله په دوو ورو ښاخونو چې عبارت ده له ((رڼا خيل او جلندر خيل )) باندي ويشل کېږي.

دوهم ـ مرجا نخيلو قبيله : همدې قبيلې اوسيدونکي د قره باغ مرکزي کليو کې اوسيږي چې عبارت دي له (شبار نودې ، بهادرکې ، سفر خيل او جان مراد ) او همدا قبيله هم په دوو ښاخو ويشل کيږي چې عبارت دي له باباخيلو او سه پای څخه اندړو قبيلې خلک زياتره ځمکې لري او ميلمه دوسته دي.

دريیم ـ تره کي قبيله : همدې قبيلې اوسيدونکي په دوهم درجې چې په اکثريت کې د پښتون ميشو کرار لري او په مختليفو ښاخوونو ويشل کېږي چې(بدنخيل ، ناخيل ، جمال خيل ، نوروز خيل ، شمول خيل ، جوري او نور ) باندي ويشل شوي دي عموما تره کي قبيلې اوسيدونکي د ځمکو او د ملکيت لرونکي دي.

څلورم ـ خروټو قبيله : همدا قبيله هم د قره باغ په دريیمه درجه اوسيدونکي لري او په غلجي ښاخ اړوند په مرکزي ساحو کې د قره باغ اوسيږي په دوو ښاخو ويشل شوي دي چې عبارت دی له(ذقو خيل او ادو خيلو باندي او وروسته په وړو ټبرونو ويشل کېږي چې عبارت له (( بنډار خيل ، حمند خيل ، يحی خيل ، زاولي خيل ، مارزک ، رانجي خيل ، سورا نخيل ، حيدر زي)) او داسي نور وړکيو ښاخونو باندي ويشل شوي دي.

پنځم ـ دفتاڼي قبيله : دفتاڼي قبيله په څلورمه درجه او د غلجي پښتنو په کتار کې دريږي همداسي د دې قبيلې اوسيدونکي هم په مرکزي ساحه دي قره باغ کې اوسيږي چې په مختليفو ښاخونو پوري اړه لري چې عبارت دي له ( عمرخيل ، ابراهم خيل ، نسو خيل ، هيدر او همداسي نور..)

شپږم ـ مياخيلو قبيله : د اهم څلورمي درجې او کتار ته ځان رسوي، غلجي پښتنو پور اړوند قبيله ده چې په وړو ښاخونو سره پيژندل کيږي چې عبارت دی ( بلوچ خيل ، شاديخيل ، مندر خيل ، لوڼي ، زکوري او داسي نور.) د ا خبره د يادولو دی چې ( مياخيل ، دفتاڼي ، خروټي ، ناصري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لواڼي )په ژبه(لهجه) ، خوی ، دود ( رواج ) او د ژوند کولو په د ستورونو کې یوشان دي چې اکثریت یې سرمایه داره، تجاران یادشوي او همدا کاروبار په مخ وړي .

اووم ـ ملا خیلو قبیله : دا قبیله هم په غلجي باندي سره کډیږي او د قره باغ په دوو یا دریو کلیو کې یعني په رڼا خیل او ځیني نور یي مرکز ته نیږي دي اوسیږي .

اتم ـ لیلي زي قبیله : د دې قبیلې وګړي په جانمراد او مرکز مربوته په دوو یا دریو کلیو کې اوسیږي په غلجي او خروټي ښاخ مربوت یاد شوي دي . نهم ـ مریاڼي قبیله هم په دوه یا دری کلي چې په داخل دي جانمراد ، رڼا خیلو او په قره باغ کې او سیږي او په کوچنیو ښاخونو ویشل شوي او غلجي ټبر مربوت یاد شوي دي.

لسم ـ لودین قبیله : د دې قبیلې وګړي چې یو کلی یې د قره باغ په مرکز کې اوسیږي او په غلجي ښاخ پوري اړوند دي .

ځیني وړې قبیلې چې په قره باغ کې اوسیږي عبارت دي له (( سعادات ، دهقانان یا تاجیک ، اوزبک چې له له اصله دلته اوسیږي او ځیني نور چې د پښتنو په غلجي او دورانیو پوري اړه نه لري په اقلیت سره شتون لري .

قره باغ هزاره قوم هم په مختلیفو قبیلو ویشل شوي دي او دوه مهم ښاخونه یې عبارت دي له (محمد خوجه او چهار دسته) څخه دي . محمد خوجه قبیلې هزاره ګان په مربوته ساحو دي مرکز او د شمال په سر سبزو ساحو کې خپل ژوند کوي . چهار دسته قبیلې هزاره ګان په غربي طرف ته نیږدي په سر سبزو درو دي کلکو ، زردالو ، تمکي ، نی کلا او همداسي نور ځایونو کې اوسیږي د دې قوم وګړي عموماً د ځمکو په ابادولو مصروف دي او زحمت کاره دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قره باغ شخصیتونه

د لته یوازې د لیکوال د عصر ځینو روحاني او د هغه وخت شخصیتونو ته پاملرنه شوی؛ حال دا چې د قره باغ اوسني شخصیتونه د یادولو ، ستاینې او پیژندلو وړ دي او اړتیا ورته زیاته لیدل کیږي تر څو د دوی په اړه معلومات را ټول او یو بل په همدې ترتیب اثر د چاپ لپاره اړتیا لیدل کیږي چې د شخصیتونو ژوند او کارنامو ته پکې ځای ورکړل شي، اوسني دوره کې هم په قره باغ کې ډیر داسي روحاني شخصیتونه شته چې په هیڅ ډول ورته پام او توجو نه ده شوې او همداسې طبابت ، انجنیري ، سیاست ، تعلیمي ډګر او ادب ټولنیزې اصلاح لپاره داسي لیکوالان لرو چې د هیواد په سطحه منل شوي اثار لري مثلا د سیمې اوسنی یو مشهور ناول او لنډو کیسو لیکوونکی لیکوال نصیراحمد احمدي یادونه وړ دی او همداسې نور ...د لیکوالو ژوند او د هنر ټولو معنوې هستیو ته پکې ځای وي ، دغه کتاب د بل جامع اثر لپاره لاره خلاصه وي او باید په رڼا کې بل اثر چې نوې او تازه معلومات د قره باغ د شخصیتونو په اړه پکې په پوره ډول ترتیب شوي وي دروازه خلاصه وي تر څو راتلونکی یو داسي مکمل کتاب د قره باغ په اړه ولیکل شي ترڅو ټوله معلومات پکې په اپډیټ ډول خپاره شي تر څو محصلین ، زده کوونکي او د سیمې او سیدونکي په پوره ډول استفاده ترې وکړي .د پورتنیو خبرو راوړلو اړتیا وه ځکه چې لوستوونکی لاندې نیو شخصیتونو ته د اوسني وخت فکر ونه کړي، بلکې لیکوال د خپل عصر روحانین او ځیني شخصیتونو یادونه کړې ده او اړتیا یې کښلې ده . زه یې تاسو ته یوازې ژباړم څو تاسي د لیکوال د وخت له شخصیتونو سره اشنا شئ.

قره باغ لکه په مخکینیو وختونو کې ویاړمن شخصیتونه در لودل لکه فعاله علما ، واقیعي روحانین او قبیلوي مشران چې ځیني یي د مثال په ډول یاد شوي دي. روحاني طریقت پیرو ګل اخندزاده تره کی چې د خپل وخت یو نیک او د شهرت لرونکی شخصیت ؤ د یادولو وړ دی. په وروستني عصر کې د سید سلطان شا اغا چې د طریقت پیرو او روحاني شخصیت ؤ او د ټولو اعتقاد وړ بلل شوی دی چې یوازې ئې یو مزار پاتې دی . همداسې روحاني طریقت او اهلي تشیع شیخ عزیز الله چې د قره چه کلي اوسیدونکی عالم او د متشهید مقام ته رسیدلی د فقې جعفري کې رسیدلی دی او د ټولو اعتماد او اعتقاد وړ بلل شوی چې ډیرې خاطرې او پندونه ترې راپاتې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبیله وي مشرانو څخه یو هم حاجي عبدالغفار خان مرجانخیل اندړ چې د ټولو خیرخوا او د پوره باور دي قبیلو او د منطقې په سطحه قومي مخور وو چې یوازي یې افتخارات را پاتي دي. همت د لارې سالار بلل شوی شیرمحمد خان بابا خیل اندړ د عموکۍ چې د خپل وخت جنرال او د امیر عبدالرحمن خان اعتماد ئې ترلاسه کړی دی او تاریخي کارنامي ترې پاتي دي د خپل قوم او دمنطقې افتخار بلل شوي دی.

شیرخان ناشر: ناشر په یو علم دوسته او غزتمي کورنۍ کې دنیاته سترګې غړولې دي په قبیله خروټی د پوره استعدار لرلو سره یې په تجارت کې هم زیات شهرت تر لاسه کړ او هم په شمار (۳۱) جلده مختلیف دیني ، تاریخي او اسلامي کتابونه یې د علما په مرسته ولیکل او چاپ شوي او هم (۴۴)نور یې د چاپ لپاره اماده کړي چې له همدې وجې یې د ناشر لقب غوره کړی دی، څه وخت چې د افغانستان پاچاهي سقاو زوی ته په لاس ورغله شیرمحمد خان ناشر د غازي محمد نادرشاه اعتماد یې تر لاسه کړ چې په مسلسل ډول د حکومت لویه دنده یې ترلاسه کړه چې په هغه وخت کې د (نائب الحکومه ) په ډول بدخشان کې مقرر شو چې په اوو کلنه دوره کې د ښوصفتونو او نوم په درلودلو سره افتخاري کارنامي هم ترلاسه کړي.

هزاره احمد علي خان د جنګلک د کلي اوسیدون ښه عالم او پوه شخصیت وو چې په ښه ډول په مسلسل ډول د لوګر ولایت حکمتي سرپرستي د ده په لاس وه چې په ښه ډول یې یاده دنده سرته رسولې او د سیمې او قوم افتخار یاد شوی دی .

هغه چې په وړو وظیفو او د هنر او کمال څښتن یاد شوی یو هم میرزا ظریف خان بابا خیل چې د شبار کلي کې اوسیده د منطقې په سطحه ممتاز خطاطانو په کتار کې یاد شوی دی چې ښه نوم یې تراوسه پوري ژوندی دی.

یادي سیمې کې زیات علما او روحانین په یاد عصر کې موجود ؤ او د ځینو نومونه په لیکلي ډول یاکتابي بڼه راوړل شوي دي .

مولوي عبدالمالک خلیفه صاحب چې مرور دار په کلي یې د ژوند خوړه مرحله په ښه ډول تیره کړې ده واقعي او ښه علمیت یې درلود . د اهلي تشیع علماوو څخه د محمد علي اوحادي د قلیاقل اوسیدنکی دی چې د مشتهد مقام ته رسیدلی روحانی او د فقي جعفري پیرو یاد شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقره باغ یادو شخصیتونه وفات شوي ځکه د لیکوال په کډون د ټولو مزارونه د یاد په ډول راپاتي دي .

# قره باغ معادني زیرمې ذخیرې

د غرونو لوړوالی او رنګینوالی نه دی چې همدې سیمې ته یې ښکلا ور کړې ده بلکې د دې غرونو او تپو کې یوه بله لویه هستي هم په مخلیتفو ډولونو سره ذخیره ده چې د غرور او اهمیت لوړو ځوکو ته یې ځان رسرولی دی چې هغه عبارت دي له :

اول ـ سروپو معادن : ثابت شوی معادن د رڼا خیلو په کلي کې د کلاخان په نوم نوموړي کاریز په داخیل کې شتون لري.

دوهم ـ زغال سنګه معادن : د کلکو د غره په لمن او د زرسنګه په سرسبزي او د اوبو بند ته مساعدي سیمه کې شتون لري.

دریم ـ سروپو معادن : دا معادن په شرقي سیمه چې یعني د زر دالو د سیمې او د سره غره په لمن کې شتون لري.

څلورم ـ طلا معادن : غربي لوري ته د سره غره په لمن او د تمکي کې چې په مخکینو زمانو کې اخراج شوی او استفاده ترې شوې او همدا سیمه د زر کشان په نوم شهرت لري.

پنځم ـ تیلو چینه : په حصو دي میلور درې کې شتون لري*****

شپږم ـ مر مرو ډول ډول ډبرې : د مدکو غره په سلسله کې د ناوې او شیر تر مینځ موجودي دي.

اووم ـ د تیلو چینه : چې په دا خیل دي کاریز دي جلم کې شتون لري.

یاد معادنونو په خپل سري ډول ځان ښودلی دی ، نه د کومو مسلکې او نه هم د معادن پیژندونکو کشف کړي دي، همدا شان که مسلکې انجنیرانو په همدې سیمه کې پلټنه وکړي په زیات امکاني ډول سره په زیاته پیمانه به دلته معادني ذخیري کشف او کڼې به ترې واخیستل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قبیلوي ویش مطابق د قره باغ کلي او درې

قره باغ ولسوالۍ نفوس ته په کتلو سره مجموعا (۳۲۰) کم زیات کلي او درې شتون لري چې له دې جملې څخه (۲۷۵) کلي د پښتنو دي او هم (۵۰) کلي د فارسي ژبانو هزاره وو او ځیني غیري اهلي تشیع وروڼه هم ژوند کوي.

لومړی را ځو د جلال زي قبیلې وګړو ته چې د قره باغ په کومو کلیو کې او سېږي او همداسي په ترتیب سره د قره باغ نوري قبیلې کلي او درې په ترتیب سره را اخلو.

## جلال زي قبیلې و ګړي د قره باغ په کومو کلیو کې استوګنه کوي:

پاچه کي

ناتار

ګنګی

کردی

باران

خالي رڼا خیل

نوکروک

موشکي اخند خیل

راخت وال

سرکوده

داود خیل

سروال موشکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوغرا

سراو

موچی

خربلاق رہا خیلو دره

مربلاق

میا نتو علم خیل

خار سال

سری

چوہی

ملا موسی

غلام شا رہاخیل کلی

شا کاریز

فتح

خان محمود

غرغرک

سربلند

دبر کلا

کہوولي

اشکیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

همبلاق

کلا علم خان کلی

مرجانخیلو قبیلې د قره باغ په کومو کلیو کې استوګنه کوي:

اغاوال سر خان کلی

مرخان چې څلور مسجده دی

نوده

شبار

ملاخیل

بادرګې

سفرخیل

بچو

کټه ده

خونیان جانمراد

پورته عسوخیل

خالو خیل

کا کش

کشي

عموګې

شیر چې څلور مسجده دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نه برله**

**ګاومشک**

**ملا عبدالباقي جانمراد**

**خان زمانخیل**

**غندی**

**کښته عسوخیل**

**اخترخیل**

**قربانخیل**

**روبا**

**علي محمد خان قلعه**

**یارګي خیل**

**ملنګه خیل**

**بګي**

**جبار جان**

**بلال**

**قلندر خیل**

**چاویان**

**همزه خیل**

**سرکی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دادوخيل**

**داد محمد کلا**

**خاول**

**جانمراد ميراحسن خيلو کلی**

**بارک ايدني خيل**

**اتواله**

**عسکر کوټ**

**علي نيازي چمبر**

**کښته خالوخيل**

**موسی وال**

**مخی لنګر قره باغ**

**شبی جانمراد**

**ملاخيلو چمبران**

**تره کي قبيلې د قره باغ په کومو کليو کې استوګنه کوي :**

**همبلاق رختوالو کلی**

**فتح خان**

**سنګی**

**ګرجز**

**ملوک**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بشير**

**جلم**

**سر پوست**

**باروکلی ، محمد برات چمبران**

**ترشي اسلم**

**پورته نواز**

**کښته نواز**

**جمال خیلو لوی کلی**

**ډکړي**

**کښته نوروز خیل**

**پورته نوروز خیل**

**نيازي**

**کښته ناخیل**

**پورته ناخیل**

**بشي**

**بکي خیل**

**ګل اخندزاده**

**والي**

**بدين خیل شیر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیر پوپلو کلی

شیر مکتب ته نږدې کلي

ګامشک دره چې شپږ مسجده لري

زردالو

خروټي قبیلي د قره باغ په کومو کلي کې استوګنه لري :

لاغرجوی

سرسوته

دي سعید

شاغولي

اکبر خان

جرکنه

غلام رسول خان

نیازي

لیلی

همت

مروت

نقشبند خان

دراز

ګرګاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پورته پروکی**

**کښته پروکی**

**کیاکت**

**کالی**

**پورته چرکي**

**کښته چرکي**

**سربلند**

**شاديخان**

**رب نواز**

**سیف الدین خان**

**روشن**

**دولت خان**

**لایق**

**منګل**

**ازاد خان**

**وليداد**

**ظفر کوبي**

**حاجي عطار**

**حاجي جمک جمال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرک طراب**

**کوچک**

**مزدور کې**

**شبار**

**غلام محی الدین استاد**

**مراد خان رانجي خیل**

**اراباب حاجي طراب**

**غفور ارباب**

**نصرت اباد**

**دفتاڼي قبیلې د قره باغ په کومو کلیو کې استوګنه لري :**

**نهال خان**

**لوګري**

**شامدا**

**جان بهادر**

**کلبی**

**میدانک**

**ګوډل بهبود**

**نسوخیل**

**ابراهیم خیل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاکر

فقیر یاسین

کنه ده

جنګلک

قبرغه

حاجي شیرمحمد کلی

ادم

**میاخیلو قبیلې د قره باغ په کومو کلیو کې استوګنه لري :**

عبدالله ګل

دهقانان

عمرزي

نجیم خان د غټې

شادیخیل

بلوچ خیل

صاحب زاده

ملوک

ملا غلام نبي

روزي

بشیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پورته لوړي**

**کښته لوړي**

**هاروخيل**

**وليداد**

**کندي جمال**

**کلدياران**

**نيازي جانمراد**

## ملاخيلو قبيلې د قره باغ په کومو کليو کې استوګنه لري :

**شبار ملاخيلو کلی**

**رڼاخيلو ملاخيل**

**ډکري ملاخيل**

## ليلي زي قبيلې د قره باغ په کومو کليو کې استوګنه لري :

**جنجال ليلي زي**

**همبلاق**

**جانمراد**

## مرياڼي قبيلي د قره باغ په کومو کليو کې استوګنه لري :

**سرياني رڼا خيل**

**وليداد شيخ داد ګل**

**جانمراد مرياڼي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نیازي قبیلې د قره باغ په کومو کلیو کې استوګنه لري :

حاجي جانو د خدو خیلو کلی

علي نیازي

په همدې ترتیب د نورو قبیلو سره په څنګ کې د ا لاندي قبیلې هم په شمیر سره په یادو کلیو کې استوګنه کوي.

د کاکا کلا په کلي کې لودین قبیلې وګړي .

بشار په کلي کې علي خیل قبیله

په هارونخیلو کې سلمانخیل قبیله

لایق کلي کې ناصر قبیله

موشکي

دوراني قبیله چې په کم او زیات شمیر په لاندي کلیو کې اوسیږي د یادولو وړ ده چې لومړی یې د پوپل زي ښاخ ته راځو چې په کومو کلیو کې استوګنه لري.

## پوپل زي قبیلې وګړي د قره باغ په لاندي کلیو کې استوګنه کوي :

عبدالروف کلی

نجم خان

کښته فقیر

چاکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلام قادر

یار محمد خان بابا

سرواغطه خان

کلخ چین

محی الدین کنډه لخ

کنډه لخ

جمنی شاه کنډه لخ

برکټ صاحب

پورته ولیداد

کښته ولیداد

مروړداد

پڼی

بارک زي زرک ښاخ د دوراني چې په څلور و کلیوو کې موجود دي.

قریه نعیم خان

سروال موشکی

ولیداد

مرور داد

اسحق زي دوراني چې په لاندي کلیو کې موجود دي.

ولیداد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوبی ګل محمد

شرخان

شیرین خان

لیلي زي

ایوب کوبی

مهمند قبیله چې اصلاََ دوراني قبیلې اړوند دي په لاندي کلیوو کې او سیږي .

مرزا حقداد کلی

فیض محمد

پنهی

سربلند

میرزا میر

قاضي همبلاق

قبرغه

کلان خان

وزیر دوراني هم په داخیل دي قره باغ کې په دغو کلیو کې او سیږي چې په دې ترتیب سره.

ارباب کلی

شامدا

خان محمد خان شیراباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتح میر شراباد

بره خان شیراباد

خانم دنی

قطب خان

## مراڼي قبیله هم په قره باغ کې اوسېږي :

دشتک د ملک میر ولي کلی

## اچکزي قبیله هم په قره باغ کې اوسیږي:

عبدالکریم کلی

ترین چې دا هم د دوراني قبیلې یو ښاخ دی په یادي ولسوالي کې ژوند کوي :

لایق ترینان

دولت خان ترینان

جمال خیلو ترینان

په داسي ډول شامدا کې مسعود دوراني هم ژوند کوي.

وردګ قبیلې وګړي چې په قره باغ کې په همسایه توب ژوند لري په لاندي کلیو کې په کم زیات شمیر ژوند کوي.

لایق کلي کې

رڼا خیلو په نواباد کې

دهقانان یا تاجیک پښتانه چې پر غلجي او دوراني ښاخ پوري اړوند نه دي ، په لاندي کلیو کې ژوند کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دهقانان**

**کوبی**

**ارباب**

**کوډل ارباب**

**نخي**

**خالو خیل جانمراد**

**حاجي عبدالله جان بازار ته نیږدې**

**سعادات قبیله چې په څلور کلیو کې ژوند کوي.**

**سید سلطان شاه اغا کلی**

**دولت خان سید مصطفی**

**غتې**

**چهار خیل**

**پنچ برجه کلي کې اوزبک پښتانه هم ژوند کوي او هم په د زر دالو کې اوزبکو پښتنو قبیله استوګنه لري.**

**کتاب اخیري برخې ته را ګرځو په دې پرخه کې اهلي تشیع یا هزاره قوم ته چې د قره باغ په دا خیل کې ژوند کوي د (۵۰) شاوخوا کلیوو او درو کې ژوند کوي په دوو ښاخونو ویشل کېږي.**

**لومړی ښاخ د محمد خواجه د قبیلې دی چې (۲۷)کلیو کې استوګنه لري چې لومړی د دغې قبیلې یادونه کوو.**

**چوڼی کلی چې مرکز ته نیږدې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماشی**

**نواباد**

**دي اوبه قره چه**

**سه دهي**

**رزاد**

**بوزي**

**جمال شیرخان**

**میرک**

**سیدولي**

**نواباد سیدولي**

**اهینو دره چې څلور یا پنځه کلي ده**

**خوندان دره  چې دوه یا درې کلي ده**

**توچو سر سبزه دره چې څلور کلي ده**

**توچو سعادات**

**جنګلک دره درې کلي ده**

**جنګلک داربیکې**

**لنګر د سعاداتو قبیله چې څلور کلي نور هم دي**

**زرکو د بیاتو قبیله**

**زرسنکې دره چې دوه کلي نور هم لري**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خیر طوغی**

**پوند کشته**

**مرزکه قلیاقل**

**قلیاقل دره چې لس کلي لري**

**بلداغان دره چې درې کلي لري**

**نختې دره چې چې اته کلي سعادات قبیله**

**اصغر دره چې نهه کلي لري**

**په همدې ترتیب هغه درې او کلي چې د چهار دسته هزاره په کې میشت دي.**

**کهلکو دره چې شپږ کلي لري**

**زردالو دره چې اته کلي لري**

**بیدره**

**بیرم**

**کاومره**

**شاکوبلاق**

**ملور**

**د بخشي**

**کوئته سعادات دبدي**

**دبدي دره چې ۱۵ کلي لري**

**شاکي نوکه باربک**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کټه غار**

**نی قلعه چې ۲۲ کلي دی**

**تمکي طاقچين**

**قول**

**ورقه**

**کرو**

**خانه میانه**

**بلند قاش**

**قاني**

**قاش کواره**

**خوش مدي**

**پای قول چمبر**

**عمومي ډول په هره دره کې ډیر واړه واړه کلي شتون لري چې د لته یې د هغوی څخه یوازي د درو نومونه راوړي دي .**

**همدې ډول لیکوال په خپل اثر کې له لوستونکو څخه هیله کړې چې پر یاد کتاب کې به ډیر نیمګړتیا وي موجودي وي له لوستونکو څخه یې غوښتي دي چې په نیمګړتیاوو کې ور سره مرسته وکړي تر څو په را تلوونکي کې د معلوماتو اسانی وي.**


**قره باغ اهمیت لرونکي او د صفت وړ سیمه ده چې دا هر څه په مات قلم نه دي بشپړ شوي او د معلوماتو کمی به لازم موجود وي. کیدای شي ډیری خطا ګاني هم ولري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب په پای پاڼو کې د ښاغلي ښارنوال محمد انور ناشر د لیکوال په همدې اثر باندې تقریظ لیکلی دی چې په همدې ډول یې د لیکوال سبک یې ستایلی دی او لیکې سبک یې روان دی او د لیکوال نثر او د جملو طرز یې روان او عامیانه ښودلی دی.

ناشر لیکي: (( اثر محترم الحاج مصلح صاحب بنام ((آئینه قره باغ )) را قبل از چاپ مطالعه نمودم مولف محترم در مقدمه مختصری که پیرامون معرفي زاد گاهش رقم فرموده اند چگونگی ان محل را جملات جالب و تشبیهات شاعرانه ترسیم داشته.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**